نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۴/۰۸/۲۲

# د طالبانو د سولې استازې په کابل کې

دا خبره نو اوس ځینو نا خبره افغانانو ته په یقین بدله شوي چې د طالبانو له استازو سره د افغان حکومت بېلابېلې کړی او د سولې شورا په نږدې تماس کې ده.
د سولې شورا ځینې غړي ځینو مهمو سفارتونو ته ورغلي، سفیرانو ته یې ویلي چې زموږ د سولې هڅې نتیجې ته بیخي ډېرې نږدې شوي، د طالبانو د رهبرۍ شورا، د طالبانو دمشرانو او قطر دفتر سره مو اړیکې ټینګې کړې، خبرې ښې پر مخ رواني دي، موږ د خبرو د غزېدو او پایلې له پاره بودیجې ته اړتیا لرو، د سفیر سره تر خبرو وروسته د نورو پیسو د غوښتلو پروپوزل هم د سفیر پرمیز ورته کېږدي.
کرزی صاحب د خپلو پلویانو په خوله مهمو سفارتونو ته پیغام ورکوي چې طالبان په کرزي اعتماد او باور لري، کرزي د طالبانو بندیان خلاص کړل اوس اعتماد جوړونه شوي، د کرزي خبرې د طالبانو له مشرانو او په ځانګړې ډول قطر دفتر سره ډېرې مثبتې رواني دي، د قطر دفتر د کرزي خبرې مني او انتظار دي چې که کرزی په واک کې پاتې کېږي طالبان به هم په حکومت کې شاملیږي.
ډاکتر اشرف غني او پلویان یې وایي چې نه یواځې د قطر دفتر بلکه د طالبانو له مشر ملامحمد عمر آخند سره یې هم اړیکه ټینګه شوي، او د طالبانو د رهبرۍ شورا کسان خو یې وار له مخه په اعتماد کې اخستي دي.
د کرزي او سولې شورا د ځینو غړو خبرې هغه وخت ګرمې شوې چې د پاکستان د فشارونو له امله د طالبانو د ځینو غړو بې وسلې کورنیو چې مخکې هم په سیاست او نظامي برخه کې فعال نه ؤ، د دې پرځای چې د پاکستان زندان ته ولوېږي ښه یې وګڼله چې خپل هیواد ته راشي، که بندي کېږي او یا بیا د هیواد څخه بل ځای ته وتلو چانس او لاره پیداکړي، همدې ته یې ترجیح ورکړه، د ببرک ځدراڼ تأریخ یې یوځل بیا راژوندی کړ، افغانان که خپلو منځوکې یو بل وژني خو د سختې په وخت کې بیا هرڅه هیر او یو دبل ننګه کوي.
اکرم خپلواک د سرحدونو او قبایلو چارو وزیر هم په ناستو او ملجسونو کې وایي چې د طالب مشرانو کورنی په افغانستان کې دي، هغوی سره موږ اړیکه لرو یو پر بل اعتماد لرو، مګر اصل خبرې څخه بهرنیان او په کور دننه ډیری افغانان نه دی خبر چې د پاکستان د فشار له امله یوه کورنی په شپه کې افغانستان ته راځي، د خپلو قریبانو ځای ته ځان رسوي، بند مني، مرګ مني، او داتمه هم لري چې ممکن د پښتني غرور له مخې له موږ سره افغان چاراوکې بد وضعیت ونه کړي، همداسې وشول، هغوی ډیر ژر بیرته له افغانستان څخه ووتل. مګر د سولې ترنامه لاندې خلک یې اوس له همدې سیاسي مجبوریت څخه ګټه پورته کوي او د پیسو اخستلو پروپوزلونه د بهرنیو هیوادونو سفیرانو ته وړاندې کوي.
نړیواله ټولنه په تیرو کلونو کې څو ځله د افغان چاراواکو او ځینو هیوادونو له خوا وغولول شوه، د طالبانو په نوم یې ډیرې پیسې او پروژې درواغ شوې،او ځینو افغانانو خو دهمدغو جعلي د سولې د استازو له کبله خپل سرونه پکې وبایلل.
اوسمهال چې هیواد له یو خورا بد کړکیچن حالت سره مخ دی، د طالبانو، اسلامي حزب او افغان حکومت دروغجن د سولې استازې دومره زیات شوي، چې هر ځای پر دې بحث کیږي سوله ډیره نږدې شوې، اسلامي حزب خو پرته له شکه راځي، طالبانو هم سر ښوروځي، که ډاکتر اشرف غنی احمدزی ولسمشر شي نو ډیر ژر به سوله هم وکړي.
ځینې خلک چې د خبرو په اړه ژور فکر نه کوي، د ډاکتر اشرف غني له خولې دا خبره هم کوي، چې کله واک ته ورسیږي سمدستي به یو طرفه اوربند کوي، د طالبانو سیاسي بندیان به ټول خوشي کوي، طالبان به په واک کې ورسره شریکوي، او د طالبانو له مشرانو سره به مخامخ خبرې کوي.
خپله غني وعده کړې چې دری میاشتې به په امنیتي ادارو (دفاع او داخله وزارت او ملي امنیت) کې بدلون نه راولې په خپل حال به پاتې وي، بیا به د کوم قوت له مخې غني یو طرفه اوربند کوی، بل داچې د افغانستان په اوسنیو شرایطو کې یو طرفه اوربند ډیر ستونزمن دی، اصلاً شونی نه دی.
د سیاسي بندیانو خلاصون اوسمهال هغه هم داسې ژر د غني تر وس پورته خبره ده، شمال ټلواله چې لا هم ځواکمنه ده او په راتلونکي حکومت کې به ځواکمن وي، هغوئ به یې مخنیوی کوي، امریکا به هم د دغه کار سره موافقه ونه کړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

داچې غني احمدزی به په حکومت کې طالبان او اسلامي حزب ته ځای ورکوی، د ملي یووالي حکومت به جوړوي، د اسلامي حزب ډیری پخواني غړي ورسره عملاً شته، قطب الدین هلال، وحیدالله سباوون، جمعه خان همدرد، قاضي آمین وقاد او داسي نور...

ځینې شنونکې په دي باور دي چې د راتلونکې حکومت د طالبانو څخه هدف ممکن ملا معتصم آغاجان وي، هغه ته به ژمنه ورکول شوې وي یا به هڅول کیږي چې راتلونکې حکومت کې به د طالبانو په استازیتوب ګډون کوي، ځینې سیاسي مشران دا خبره هم کوي چې ملا معتصم آغا جان اوسمهال په کابل کې میشت دي. ولي خپلواکو او آزادو رسنیو دغه خبره نه ده تأید کړي.

ډاکټر غیرت بهیر هم ویل کیږي چې کابل ته راغلي، د حکمتیار صاحب بل زوم همایون جریر هم په کابل کې دی، که راتلونکې حکومت وتوانیږي چې د حکمتیار اسلامي حزب په استازیتوب بهیر او یا جریر، د طالبانو په استازیتوب ملامعتصم آغا جان په حکومت کې ورګډ کړي، نو غني بیا ځان ته حق ورکوي چې ووایې د ملي یووالي حکومت دی، ټولي ډلي پکې شته.

د سولې له پاره لاهم رښتونې ژمنتیا نه لیدل کیږي، د سولې جعلي استازې او ډلې ایسته دورې ګرځي، یا خو دې له پاره چې پیسي له دي لارې لاسته راوړي او یا ممکن د دې له پاره چې د خلکو په منځ کې دغه خبره ډیره تبلیغ شي چې طالبان د کرزي او غني سره سولې ته حاضر شوې او راځي.

بل خوا د طالبانو اصل سرچینې بیا وایې چې کرزی یو لاسپوځی واکمن ؤ د سولې د خبرو صلاحیت او واک یې نه درلود، راتلونکی حکومت چې د غني او عبدالله به وي، هغوی به هم خپلواکې او آزادي ونه لري، او دسولې د خبرو واک او صلاحیت به ونه لري، د طالبانو سرچینې وایې چې موږ باید تر ټولو لومړی د افغانستان د اشغال مسئله له امریکا سره ختمه کړو، افغان چارواکو ته د لاسپوځو په سترګه ګوري، وایې هغه وخت به د افغان لوري سره خبرې کوي کله چې د امریکا سره خبره یو طرفه کړي.

د سولې اړوند تر ټولو حیاتي مسئله د امریکا او افغان حکومت تر منځ د امنیتي تړون لاسلیک دی، د غني او عبدالله پلویان وایې چې کله یې مشر واک ته رسیږي سمدستي به امنیتي تړون لاسلیک کیږي، معلومیږي چې راتلونکې حکومت هم حقیقي سولې ته ژمن نه دی.

زما په آند د سولې ټول په کور دننه او بهر هغه جریانونه چې د امتیازاتو اخستلو له پاره رامنځته شوې دوی هم په یوه خطاء کي دي.

طالبان هم انسانان دي، د دې جامعي خلک دي، هغوی ډیر متواضع او خاکساره خلک دي، که هر افغان او مسلمان سړی ورسره د لیدلو غوښتنه وکړي هغوئ یې نه ردوي، مګر ځینې کسان چې له طالبانو سره د عادي لیدنو څخه هم ډرامه جوړوې، چې کابل یا بهر ته ولاړشي وایې چې له طالبانو سره ما د سولې خبرې کړي هغوئ زموږ په منځګړیتوب خبرو ته حاضر دي.

د هر طالب سره لیدنه د سولې ډرامه له ځان سره لري، او د طالب له لیدنو څخه خلک ناسمه ګټه پورته کوي، موږ باید په هغه چا باور وکړو چې هغوی عملاً د طالبانو د مشخصو سیاسي استازو چې په قطر کې میښت دي اړیکه ولري، یواځي اړیکه هم د سولې په معنی نه ده، طالبان په کوردننه خپلوان لري، د خپلوۍ رښته لري، که د یو چا د جوړ او ناجوړ پوښتنه کوي، یا ورسره په لیري پرتو سیمو او یا بهر کې په میلمستیا کې په خپله خوښه او یا ناخبره ډول ګډون کوي، آیا دا د دي معنی ده چې دوی د سولې له پاره چمتو دي؟ او دهمدغه ناستو خلکو منځګړیتوب مني؟ نه هیڅکله هم نه تر کومه چې زه معلومات لرم، داسي ډله او ګروپ هم شته چې هغوئ کولای شي د طالبانو او په کور دننه د سیاسي ډلو او شخصیتونوتر منځ یواځي د پیغام رسولو او خبرو ته زمینه مساعد کولو توان لري، هغه ډله کرزي صاحب هم پیژني، شمال ټلواله او دواړه نوماندان یې هم پیژني، داچې دغه ډله د افغانستان د رښتونې خپلواکي او رښتونې سولې او امنیت له پاره کار کوي، په هیواد کې د بهرنیانو د شتون مخالفت کوي، له دي امله له همدغې حقیقي ډلې سره هم د سولې دښمنان ستونزه لري، تخریب کوي یې، ځکه چې د دوی د پیسو پروپوزولونه به بیا نه منل کیږي.

په دي هیله چې افغان سیاسي ډلې او بهرنیان نور تش د سولې په شعار ځان او افغان ولس او نړیواله ټولنه ونه غولوي، د دي پرځای چې د سولې له پاره خندونه جوړ کړي، ښه به وي چې په رښتونې ډول د سولې له پاره لاس په کار شي، یو سولئیز او امن افغانستان د نړۍ او سیمې په ګټه دي، نا امن او له ستونزو ډک افغانستان د نړۍ او سیمې په زیان هم دي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ